مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۶/۰۶/۲۳

# دومره ډېر یم ویرولی خپلو خلکو



لمره پرېوځه په منده چې مابنام شي
تروږمۍ شي او دا زړه مې په ارام شي

دومره ډېر یم ویرولی خپلو خلکو
باور وکړه! آن پرځان مې زړګی خام شي

دا سرې په مخکې ځي او شاته ګوري
دا سرې لکه چې ځغاسته کې ناکام شي

وایه ښنګه به د ژوند غوټۍ موسکۍ شي
کوم ملت کې چې ګلچین ته احترام شي

رُبابي ته ټول له قهره سره او شنه شي
او ټوپک والا ته واړه لاس په نام شي

اسمان خود له ډېر غضبه تندریز شي
چې پر ځمکه د یو چا حسن لیلام شي

دغه مور به خامخا کفن پاره کړي
که د خپل نهر بچي چیغو ته یې پام شي

په ورو غږ ټپي غرڅې بچي ته ووې:
ژړا بس که، د ښکاري به راته پام شي

کرونا به یې هم حلق ور تریخ نه کړي
په دې شرط که د (نعمان) څوک هم کلام شي

نعمان دوست



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ